**التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه**

**د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی**

**د پلان او پالیسۍ کمیته**

# د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ۱۴۰۱ هـ ش د ستراتیژیک پلان کلنۍ تطبیقی راپور

**کال.......................................................................۱۴۰۱**

## د ریس پیغام

د علمی کورنی درنو لوستونکو! خوښ یم چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ۱۴۰۱ هـ ش کال د ستراتیژیک پلان تطبیقی راپور له تاسو سره شریک کوم. د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ۱۴۰۱ هـ ش کال تطبیقی پلان د ۳۲ مواردو درلودونکی دی چې په خپله محدوده کې ټول هغه فعالیتونه رانغاړی چې د پوهنځی د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره یې اجراء کول اړین دي.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي ټولو اړوندو څانګو (ډیپارتمنټونو، مدیریتونو او د تضمین کیفیت کمېټو) د همدی تطبیقی پلان پر بنسټ خپل کاری او عملیاتی پلانونه ترتیب کړی چې له مخی یې هغه کړنی چې په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې یې اجراء کول پیش بینی شوی په درست او منظم ډول سره ترلاسه شی. په همدی موخه د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ستراتیژیک پلان د تطبیق څخه په مختلفو وختونو کې لازم نظارت ترسره کړی او د چارو د ښه بهبود په موخه یې لازم پیشنهادونه او هدایات وړاندی کړي دی.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ټولو اړوندو څانګو د تطبیقی پلان د میاشتینی، او ربعوار راپوړونه ترتیب کړی او په دی سره یې د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو زمینه برابره کړی. په همدی ترتیب ټولو اړوندو شعبو د خپلو کارونو او عینی شرایطو په کتو سره لازم پیشنهادات د شته ستونزو د حل په موخه پوهنځي ته وړاندی کړی دی.

د ستراتیژیک پلان کلنی تطبیقي راپور په پلان کې د ټولو پیشبینی شواهدو په موجودیت مشمول دی. د تطبیقی پلان د ټولو اجراء شوو موارد اسناد اوشواهد په دی راپور کې ضم شوی دي. ټولی هغه کړنی چې د پلان برخه وی په حداکثر شکل سره اجراء شوی دي. د یادولو وړ ده چې د تطبیقی پلان ځینی برخی په هېواد کې دشته وضیعت له امله هغه ډول چې پیشبینی شوی دی نه دی اجراء شوی او په دی راپور کې یې د نه اجراء کیدو دلایل هم وړاندی شوی دی.

په پای کې زه د حقوقو اوسیای علومو پوهنځي له ژمن او فعال کاري ټیم څخه مننه کوم چې په پوره صداقت او ایمانداری یې د ددی علمی کاروان لپاره نه ستړی کیدونکي هلې ځلې کړي او د لا پرمختګ په لور ګامونه اخلي، هیله مي داده چې په ګډه سره خپلو ټاکلو اهدافو ته ورسیږو او د خپلو پلانونو ټولی برخی او ژمني په ښه شکل عملي کړو.

زاهدالله (سیدي)

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ریس

**د مطالبو فهرست**

**عنوان** **صفحه**


د ریس پیغام ........ **2**

مقدمه ........ **4**

د فعالیتونو خلاصه........ **5**

د تطبیقی پلان موارد، اسناد او شواهد ........ **6**

د پوهنځي د علمی شوراګانو د غونډو نماینده ګي کول........ 11

د پوهنځي په اړینو مسایلو د بحث لپاره په ټاکلی وختونو د علمی شورا غونډي د اجنډا مطابق ترسره کول. ........ 11

د پوهنځی د ټول عادی غونډو ریاست کول. ........ 11

د کال په جریان کې د پوهنځی د ټولو فوق العاده غونډو ریاست کول. ........ 11

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي ټولی علمی شورا ګاني د مهالویش مطابق ترسره کړی........ 11

ه ۱۴۰۱هـ ش کال کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ( ) فوق العاده شورا ګانی دایری کړی دی. ........ 11

پوهنځی د لایحو، مقرارتو، پرېکړو او قوانینیو تطبیق او څارنه کول: ........ **18**

د پوهنځي د اکادمیکو، مالی او اداری چارو تنظیمول: ........ **22**

د ځانګړو هوکړه لیکونو پر بنسټ بهرنیو پوهنتونونو ته د محصیلینو لیږل:........ **26**

د بدنی روزنې د کمیټي له خوا د حقوقو پوهنځي په کچه د ورزشی مختلفو ټیمونو رامنځته کول: ........ **36**

د حقوقو او سیاسی علومو په کچه د علمی او څېړنیزو سیالیو پراختیا........ **39**

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په کچه د نویو علمی کادرونو ګومارنه ........ **42**

د حقوقو کلینک پراختیا........ **43**

د محصیلینو د مونو ګرافونو او څېړنو د Data Base رامنځته کول. ........ **46**

په ملی او نړیواله کچه د څېړنو په ترسره کولو کې همکاری ........ **47**

د متفرقه کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول........ **48**

د نوی سمسترونو د پیل لپاره تدابیر نیول: ........ **49**

فارغانو ته د فراغت غونډی نیول:........ **50**

د online زده کړو پراختیا........ **52**

د پوهنځي په کچه د نویو کمیټو ایجادول ........ **53**

پایله........ **54**

وړاندیزونه........ **54**

لاسته راوړنی ........ **55**

ننګونی ........ **55**

د حل لاری ........ **56**

## مقدمه

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د خپلو ستراتېژېکو موخو د لاسته راوړلو لپاره د ۱۴۰۱ کال تر پایه پورې په لازم ډول خپل فعالیتونه د تطبیقی پلان له مخې ترسره کړي. د پوهنځي ټولو اړوندو برخو د تطبیقی پلان مطابق د خپلو عملیاتی پلانونو د جوړولو وروسته ټولی هغه اختصاصي برخې چې د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره اړیني وي او باید په ۱۴۰۱هـ ش کال کې ترسره شوی وی په په لازم ډول ترسره کړي دي.

دا چې د تطبقي پلان د جوړولو په وخت کې په لازم ډول د استادانو او اداري کارمندانو نظریات ترلاسه شوی و او پلان د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره عینی شرایطو ته په کتو ترتیب او تائید شوی و نو د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی دغه پلان په مناسب ډول عملی کړی. د تطبیقی پلان هغه برخي چې د ځینو مشکلاتو په اساس نه دی ترسره شو په دی راپور کې په مشرح ډول د دلایلو په اساس ذکر شوی دي. په دغه راپور کې د تطبیقی پلان د ټولو مواردو د ترسره کېدو او نه ترسره کېدو اسناد او شواهد ځای پر ځای شوی چې د پلان او پالیسی کمېټي د تائید وروسته د پوهنځی علمی شورا ته استول شوی او په دغه شورا کې د بحث څخه وروسته د رایو په اکثریت تائید او د مؤسسی علمی شورا ته وړاندی شو دی.

په دغه راپور کې د ټولو اړوندو کړنو اسناد او شواهد د نمونی په شکل سره ذکر شوي دي لکه د کال په جریان کې د محصیلینو او استادانو لپاره په هره میاشت کې سیمینارونه او ورکشاپونه د مختلفو موضوعاتو په اړه وړاندی شوي خو په راپور کې ددغي ورکشاپونو او سیمینارونو څخه یې د نمونی په شکل ذکر شوی دی. همدارنګه د ځینی کړنو لپاره د شواهدو شتون ته اړتیا نه لیدل کیده په همدی اساس یې د شواهدو او اسنادو د راوړلو څخه ډډه شوي ده لکه دکال په جریان کې د استادانو لخوا د تدریسی بهیر دوامداره جریان.

باید ذکر شی چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په مجموعی ډول سره دخپل پلان د عملی کولو له طریقه مختلفی لاسته راوړنی درلودلی دی چې ددی راپور په وروستی برخه کې یې یادونه شوی او هغه ستونزی چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ورسره د کال په جریان کې مخ شوی دی هم ور څخه یادونه شوی چې د راپور په ورستی برخه کې یې د حل لاری د یو پیشنهاد په شکل سره ذکر شوی دي.

## د فعالیتونو خلاصه

1. د لوړو مراجعو پر وړاندی د پوهنځی استازولی کول.
2. د پوهنځی د علمی شوراګانو د غونډو ریاست کول.
3. د لوړوزده کړو وزارت، مؤسسی او پوهنځی اړوند مقراراتو او لوایحو تطبیق کول.
4. د پوهنځی او ټولو اړوندو څانګو راپورونه (میاشتنی، ربعوار او کلنی) ترتیبول.
5. د پوهنځی د اکادمیکو، مالی او اداري چارو تنظیمول.
6. د محصیلینو مختلفو عدلي، اداري او سیاسي نهادونو ته لیږل.
7. د ځانګړو هوکړه لیکونو په اساس بهرنیو هیوادونو ته د محصیلینو لیږل.
8. د محصیلینو، استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړونی لپاره سیمینارونه ترتیبول.
9. د بدنی روزنی د کمېټې له خوا د ورزشي سیالیو په لاره اچول.
10. د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د ارزوني یا KPI پراختیا.
11. د ډیپارټمنټونو ارزونه.
12. د مشوري ورکوني مرکز ته په اړونده برخو کې د متخصصو استادانو معرفی کول.
13. د طرحو او نوښتونو لپاره د یوی ورځی مشخص کول.
14. د پوهنځی په کچه د نویو هوکړه لیکونو رامنځته کول.
15. د پوهنځی په کچه د علمی څیړنیزو سیالیو پراختیا.
16. د ګډو هوکړه لیکونو پرمټ بهرنیو هیوادونو ته د محصیلینو لیږل.
17. د ملی او نړیوالو ټرینرانو رابلل.
18. د مؤسسی د فارغو محصیلینو د ټولنی پراختیا.
19. د نویو علمی کادرونو ګمارنه.
20. د حقوقی کلینیک پراختیا.
21. د محصیلینو او استادانو د مونوګرافونو او څیړنو لپآره د Data Base رامنځته کول.
22. دپه ملی امو نړیواله کچه د څیړنو په ترسره کولو کې همکاری کول.
23. د راتلونکی کال لپاره د APM جوړول.
24. د خزانی کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول.
25. د متفرقه کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول.
26. د نویو سمسترونو پیل.
27. فارغانو ته د فراغت غونډی نیول.
28. د الکترونکی زده کړو پراختیا.
29. د استادانو ارزونه ترسره کول.
30. د اداري او خدماتی کارمندانو ارزیابی کول.
31. د پوهنځی د کمېټو ارزونه.
32. د پوهنځی په کچه د نویو کمېټو ایجادول.

## د تطبیقی پلان موارد، اسناد او شواهد

| فعالیت | د اجراء ډول |
|---|---|
| 1) د لوړو مراجعو په وړاندې د پوهنځی استازولی کول:<br>✓ د پوهنتون د (معاوینیتونو او ریاست مقام) په وړاندی د پوهنځی نماینده ګی کول<br>✓ د لوړو زده کړو وزارت او استازو پر وړانی نماینده ګی کول.<br>✓ د هېواد د نورو حکمی اشخاصو په وړاندي د پوهنځی نماینده ګي کول. | 1) د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ټولو اړوندو څانګو او اداراتو په وړاندی قانونی او لازمه استازولی ترسره کړی ده:<br>✓ د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د مؤسسی د ریاست مقام او معاوینیتونو په وړاندی قانونی استازولی ترسره کړی ده.<br>✓ د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت په وړاندی په لازمو وختونو کي مناسبه استازولی ترسره کړی ده.<br>✓ د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ټولو حکمی اشخاصو پروړاندی د پوهنځی مناسبه استازولی ترسره کړی ده او په ټولو هغو مواردو کې چې د پوهنځی د پلان مطابق ضرورت پیدا شوی یادو حکمی اشخاصو ته مراجعه شوی ده. |


د ؤسسی په علمی شورا ګانو کې د پوهنځي په نماینده ګی ګډون کول او خپل راپرونه وړاندی کول







د مستقبل پوهنتون سره د هوکړه لیک د رامنځته کولو په وخت کي د پوهنځي دریس شتون (۳/۱۲/۱۴۰۱)











د پوهنځي په نماينده گی فارغو محصيلينو ته مبارکی ورکول (۵/۱۱/۱۴۰۱)









د کونړ پوهنتون سره د تړون په وخت کې د حقوقو پوهنځي په نماینده ګی د پوهنځي د رهبری شتون (۱۱/۱۰/۱۴۰۱)












د متفرقه کانکور ازموینی پر مهال د پوهنځي په نماینده ګی د پوهنځی د رهبری شتون (۵/۱۱/۱۴۰۱)







د بهاری سمستر د پیل پر مهال د حقوقو پوهنځي د رهبری شتون (۱۷/۱۲/۱۴۰۱)



| د اجراء ډول | فعالیت |
|---|---|
| ✓ د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي ټولی علمی شورا ګاني د مهالویش مطابق ترسره کړی. د شورا پریکړی او اجندا په د همدی متن سره ضم شی.<br>✓ د پوهنځی ریس او د هغه په نه شتون کې د پوهنځي معاوین د ټولو اړوندو شوراګانو ریاست ترسره کړی.<br>✓ په ۱۴۰۱هـ ش کال کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ( ) فوق العاده شورا ګانی دایری کړی دی. | ✓ د پوهنځي د علمی شوراګانو د غونډو نماینده ګي کول<br>✓ د پوهنځي په اړینو مسایلو د بحث لپاره په ټاکلی وختونو د علمی شورا غونډې د اجنډا مطابق ترسره کول.<br>✓ د کال په جریان کې د پوهنځی د ټول عادی غونډو ریاست کول.<br>✓ د کال په جریان کې د پوهنځی د ټولو فوق العاده غونډو ریاست کول. |

شورا ګڼه (۱)            عادی غونډه            نېټه: ۱۱/۱/۱۴۰۱

| ملاحظات | مسؤل شخص | د شوری پریکړې | د بحث وړ موضوع او اجنډا | شمیره |
|---|---|---|---|---|
| | د پوهنځي ریاست او اړونده څانګي | ۱ـ دا چې د ۱۴۰۱ هـ ش کال پسرلني سمستر پیل شوی، نو د لوړو زده کړو محترم وزارت د مخکینې هدایت پر بنسټ درانه استادان دې د سمستر په پیل کې د خپلو اړوندو مضامینو درسي مفردات، کورس پالیسی، پلانونه او د دوسیې چمتو کړي او درسي مفردات محصلینو ته په اختیار کي ورکړي | د ۱۴۰۱ کال د نوی پسرلنی سمستر د درسونو جریان په اړه | ۱ |
| | د پوهنځي ریاست او اړونده څانګي | دا چې د پوهنځي پخواني مرستیال استاد حبیب الرحمن سربلند د تضمین کیفیت مرکزي کمیټې ته معرفي شوی دی، نړ د علمي شورا غړو د رایو په اتفاق استاد رشیدالله شینواري د نوي علمي مرستیال په توګه د ټاکل کیدو موضوع د موسسئې علمي شورا ته پیشنهاد شو | د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د نوي مرستیال غوښتنه | ۲ |
| | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګي او د ازموینې کمېټه | د متفرقه کانکور د ښه ترسراوۍ په موخه په ازموینه کي لوري باید خپل لازم چمتو والی ونیسي تر څو د ازموینو پروسه منظمه او شفافه ترسره شي | متفرقه کانکور لپاره تیاری | ۳ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | د پوهنځي د ۱۴۰۰ کال د ستراتیژیک پلان د تطبیق راپور او د هغې نظارت تاییدي | د پوهنځي د ۱۴۰۰کال د ستراتیژیک پلان کلني تطبیقی راپور او د نظارت راپور د شورا غړو په اتفاق د رایو تایید دی | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګي او د پلان او پالیسۍ کمېټه | |
| ۵ | دحقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي د ۱۴۰۱ کال د حمل راپور تاییدي په اړه | د حقوقو او سیاسي علومو د ۱۴۰۱ کال د حمل د میاشتي راپور د شورا د غړو په اتفاق | د پوهنځي ریاست | |
| ۶ | د تدریسي مدیر د دندې لایحې د تایید په اړه | د تدریسي مدیریت د دندې لایحه د شورا غړو په اتفاق د رایو تایید دی | د پوهنځي ریاست | |

شورا ګڼه: (۴) شورا (عادی) نیټه(۱۲/۴/۱۴۰۱)

| شمیره | بحث وړ موضوع او اجنډا | د شوری پریکړې | مسؤل شخص | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د تکرار سمستر محصلینو لیست | ۳۲ تنه محصلین چې د محرومې په اساس تکرار د سمستر شوي وو د کریډیټ د لایحې د داصولو له مخې خپل سمستر به له سره تعقیب کړي. | پوهنځي ریاست، اړونده څانګي، ازمویني کمېټه او تدریسي مدیر | |
| ۲ | د تدریسي مدیریت د لومړۍ ربعي کاري راپور تاییدی | د تدریسی مدیریت د ۱۴۰۱ ه ش کال لومړی ربعي د علمی شورا غړو د رایو په اکثریت تایید شو. | پوهنځي ریاست او تدریسي مدیریت. | |

شورا ګڼه: (۱۰) نېټه: ۱۴ /۱۴۰۱/۹

| ګڼه | د بحث وړ موضوع او اجنډا | د شورى پرېکړې | مسؤل شخص | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تضمین کیفیت د ارزونې د پاڼو ( فورمو) تائیدي. | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي علمي شورا قوس د میاشي په (۱۴) نېټه د مهالویش سره سم دایره او په اجنډا کې شاملو موضوعاتو په اړه بحث وشو چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو<br>۱- د تضمین کیفیت اړونده د ارزونې ( استاد خود ارزیابي، دیپارټمنټونو د ارزیابي او د پوهنځي د ارزیابي ) فورمې د شورا د غړو لخوا د رایو په اتفاق تائید دی . | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت کمیټه. | |
| ۲ | په تولګیو کې د کیفیت د تضمین د معیارونو د غوښتنې پر مبناء د محصلانو پر مټ د ځان ارزونې پیل. | پرېکړه وشوه چې ښکیلو اړخونه باید اړونده ارزیابي ترسره او راپور یې اړونده مسؤلینو سره شریک کړي. | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت کمیټه. | |
| ۳ | په تولګیو کې د کیفیت د تضمین د معیارونو د غوښتنې په اساس د تحصیلی نصاب ( کورس پالیسی ) د ارزونې پیل. | د پوهنځي څانګو او د تحصیلی نصاب کمیټې ته لارښوونه وشوه چې د کورس پالیسیو تطبیق ارزیابي ترسره او راپور یې اړونده برخو سره شریک کړي. | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت کمیټه، او تحصیلي نصاب کمېټه | |
| ۴ | د پوهنځي د کمیټو اړوندو چارو تکمیلول. | د پوهنځي اړونده کمیټو ته سپارښتنه وشوه چې د ارزونې په پایله کې چې کوم فیډبیک ورسره شریک شوې نیمګړتیاوې دې رفع کړي او راپور یې شریک کړي. | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت اړونده ټولې کمېټې. | |
| ۵ | اړونده څانګو د عملي برنامو پلان په اړه. | اړونده څانګو ته لارښوونه وشوه چې عملي برنامو کې پاتې برخې ژر تر ژره تکیمل په موخه لاس په کار شي | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت کمیټه. | |
| ۶ | د ښکیلو اړخونو د اړونده پلانونو د تطبیق څارنه. | ښکیلو اړخونو ته لارښوونه وشوه چې اړونده پلانونه د تطبیق په څخه باید په جدي ډول څارنه وکړي او د تطبیق په برخه کې | د پوهنځي ریاست، اړونده څانګې، تضمین کیفیت | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | دې جدي کار وکړي ترڅو اړونده پلانونه په وروستي ربع کې تطبيق کړي . | اړونده ټولې کمېټې. | |
| ۷ | علمي شورا ته پوهنځي عقرب د مياشتي د کاري راپور وړاندې کول | د حقوق او سياسي علومو پوهنځي د عقرب د مياشتي تائيد دی | د پوهنځي رياست. | |
| ۸ | ښکیلو اړخونو د راپوروںو د اصلاحات په اړه | د پوهنځي د ښکيلو اړخونو ته لارښوونه وشوه چې خپل اونيز کاري پلانونه راپور بايد د همدې اوونۍ په پاى کې ـ مياشتني راپور د خپلو نوبتي شوراګانو او د ربعوار راپور بايد علمي شورا څخه تائيد او اړوندو برخو ته واستول شي. | د پوهنځي رياست، اړونده څانګې، تضمين کيفيت اړونده ټولې کمېټې. | |

شورا ګڼه: (۶)
عادي غونډه
نېټه: ۱۴۰۱/۶/۱۴

| شميره | د بحث وړ موضوع او اجنډا | د شورى پريکړې | مسؤل شخص | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۴۰۱ه ش کال خزاني سمستر پيل لپاره چمتو والی | د حقوقو پوهنځی خزانی سمستر به په پوره چنو والی او د محصلينو د ښه تدريس او نوښتنونو سره سم پيل شي او ښکېل اړخونه په دې برخه کې پوره تياري ولري. | د پوهنځي رياست، اړونده څانګي او تدريسي مديريت. | |
| ۲ | د خزاني سمستر لپاره د علمي برنامو پلان ترتيبول | حقوقو پوهنځي د خزاني سمستر لپاره د دواړو څانګو عملی برنامو پلان د شورا د غړو رايو په اکثريت سره تاييد شو | د پوهنځي رياست، اړونده څانګي، حقوقي کلينيک او تضمين کيفيت کمېټه. | |
| ۳ | د حقوقو او سياسی علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالی څانګي د نوي امر ټاکل. | رشيد الله شينواری د قضاء او څارنوالی د څانګي نوی آمر شوراغړو د رايو په اکثريت سره تاييد شو | د پوهنځي رياست، اړونده څانګي، اړونده کمېټي او تدريسي مديريت. | |
| ۴ | د حقوق او سياسی علومو پوهنځی د اسد د مياشتي راپور تاييدی | پوهنځي اسد د مياشتي کړنو راپور د رايو په اکثريت تاييد شو | د پوهنځي رياست | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۶ | د مونوگرافونو اړوندو چارو څارنه او تعقیب | د پخواني شورا پریکړي په اساس به مونوگرافونو چارې د دواړوڅانگو او څیړنی کمیټي لخوا په ښه شکل تنظیم او پر مخ وړل کیږي | د پوهنځي ریاست، اړونده څانگي او څېړنو کمېټه | |
| ۷ | د دعلمی شورا نوې غړې | بادام گل رحیمي د حقوقو پوهنځي د علمي شورا نوي غړي په توگه تایید شو | | |

گڼه: ( ۸ ) علمي شورى د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۱/ ۷/ ۱۲

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د علمي شورى محترمو غړو!**

**د پوهنځي علمي شورى په پام کې لري چې د لاندې اجنډا سره سم، د ۱۴۰۱ل کال لپاره خپله (۸) نوبتي غونډه ترسره کړي، هیله ده شتون مو په کې یقیني کړئ.**

**ځای: د پوهنځي ریاست:10نېټه: ۱۴۰۱/ ۷/ ۱۳ لمریز ورځ: شنبه وخت:**

| موضوع | گڼه | د شورى د غړي نوم | لاسلیک | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| 1. پوهځي د ربعوار راپور تائیدی<br>2. امتحاناتو کمیټي د نوي غړي معرفي<br>3. تدریسی مدیریت ربعوار راپور تائیدی<br>4. د حقوقی کلینیک د نوي صنف ایجاد<br>5. د تضمین کیفیت د چارو گړندې کول<br>متفرقه موضوعات: | ۱ | زاهدالله سیدي | | |
| | ۲ | احمد نشاط کلیوال | | |
| | ۳ | رشیدالله شینواري | | |
| | ۴ | لطف الله عزیزي | | |
| | ۵ | محمدظهور شریفي | | |
| | ۶ | نقیب الله مطمین | | |
| | ۷ | نور انور فاروقي | | |
| | ۸ | بادام گل رحیمي | | |
| | ۹ | | | |

**درنښت**

**زاهدالله سیدي**

د پوهنځي د علمی شوراګانو ریاست کول (تاریخ، د پوهنځي د علمی شوراګانو د مهالویش مطابق)







د حقوقو پوهنځي د علمی شورا گانو ریاست کول.







**پوهنځی د لایحو، مقرارتو، پرېکړو او قوانینیو تطبیق او څارنه کول:**

| ګڼه | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۱ | **د لوړو زده کړو وزارت، د مؤسسې او پوهنځی د لایحو، مقرارتو، پرېکړو او قوانینیو تطبیق او څارنه کول:**<br>• **په ټولو تدریسی، علمی او مالی برخو کې د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، مقرراتو، لایحو او پرېکړو تطبیق او د هغې څخه نظارت کول.**<br>• **په ټولو تدریسی، علمی او مالی برخو کې د لوړ وزده کړو وزارت د قوانینو تر څنګ د مؤسسی د اصولو، مقرراتو، لایحو او پریکړو تطبیق او د هغې څخه نظارت کول.**<br>• **په ټولو تدریسی، علمی او مالی برخو کې د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو تر څنګ د پوهنځي د اصولو، مقرراتو، لایحو او پرېکړو تطبیق او د هغې څخه نظارت کول.** | د حقوقو اوسیاسی علومو پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت، مؤسسې او پوهنځی اړوند ټولی لایحی، مقررات، پریکړې او قوانین په منظم ډول تطبیق او څارنه یې کړې.<br>• په ټولو تدریسی، علمی او مالی برخو کې اړوند قوانین تطبیق شوی او د تطبیق څارنه یې ترسره شوی ده.<br>• په ټولو تدریسی، علمی او مالی برخو کې د مؤسسې د قوانینو، پریکړو او اصولو تطبیق او نظارت ترسره شوی دی.<br>• په ټولو تدریسی، علمی او مالی برهو کې د لوړو زده کړو وزارت د لایحو او قوانینو تر څنګ د پوهنځی لایحی او مقررات تطبیق او نظارت یې ترسره شوی دی. |
| ۲ | **د پوهنځي د راپورونو چمتو کول او دپوهنځي او لوړو زده کړو مؤسسی علمی شوراګانو ته د هغې وړاندې کول:**<br>○ **د پوهنځي د تضمین کیفیت د کمېټو (میاشتنی، ربعوار او کلنی) راپورونه چمتو کول.**<br>○ **د پوهنځي د ستراتیژیک پلان له تطبیق څخه (ربعوار او کلنی) راپورونه چمتو کول.**<br>○ **د پوهنځي د ټولو کړنو څخه توحیدی (میاشتنی، ربعوار او کلنی) راپورونه چمتو کول او لوړو زده کړو مؤسسی علمی شوراګانو ته د هغې وړاندې کول.** | د ۱۴۰۱ هـ ش کال راپورونه په ټاکلی وخت ترتیب شوی او د پوهنځي او مؤسسی علمی شورا ته وړاندی شوی دی.<br>• د پوهنځی د ټولو کمېټو راپورونه په خپل وخت چمتو شوی دی.<br>• د ستراتیژیک پلان ربعوار او کلنی راپور ترتیب شوی او علمی شوراګانو کې تاید شوی دی.<br>• د پوهنځی د ټولو کړنو توحیدی (میاشتینی، ربعوار او کلنی راپورونه چمتو شو او د پوهنځی او مؤسسی علمی شورا ګانو ته وړاندی شوی دی. |

د کمیټو او ټولو اړونده څانګو د راپورونو اسناد او شواهد


افغانستان اسلامي جمهوریت
لوړو زده کړو وزارت
جمهوری اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي
پلان او پالیسي کمیټه
ګڼه:
نیټه: ۱۴۰۲/۱/۲

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

موضوع: د ۱۴۰۱ کال د ستراتیژیک پلان د تطبیق د خلورمې ربعې راپور

محترما!

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تطبیق د خلورمي ربعي راپور دد مکتوب سره ضم ستاسی محترم مقام ته دروا ستول شو، څنګه چې لازم ګڼئ اجرات وکړئ.

په درنښت

سهد اسرار صمیم


د پلان او پالیسي کمیټې منشي

کاپي:

د فتر فایل

د تضمین کیفیت کمیټه

مرکزي پلان او پالیسي کمیټه


افغانستان اسلامي جمهوریت
لوړو زده کړو وزارت
جمهوری اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي
پلان او پالیسي کمیټه
ګڼه:
نیټه: ۱۴۰۱/۱۲/۱۵

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

موضوع: د ۱۴۰۱ کال د ستراتیژیک پلان د تطبیق د دریمې راپور

محترما!

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تطبیق د دریمې ربعي راپور دد مکتوب سره ضم ستاسی محترم مقام ته درواستول شو، څنګه چې لازم ګڼئ اجرات وکړئ.

په درنښت

زاهدالله سعیدی


د پلان او پالیسي کمیټې مسوول

کاپي:

د فتر فایل

د تضمین کیفیت کمیټه

مرکزي پلان او پالیسي کمیټه


افغانستان اسلامي جمهوریت
لوړو زده کړو وزارت
جمهوری اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي
پلان او پالیسي کمیټه
ګڼه:
نیټه: ۱۴۰۱/۱۲/۶

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

موضوع: د ۱۴۰۱ کال د د دلوی د میاشتې کاری راپور

محترما!

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د پلان او پالیسی کمیټې د دلوی د میاشتې کاري راپور ددی مکتوب سره ضم ستاسیم محترم مقام ته در واستول شو، څنګه چې لازم ګڼئ اجراءت وکړی

په درنښت

زاهدالله سعیدی


د پلان او پالیسي کمیټې مسوول

کاپي:

د فتر فایل

د پوهنځي تضمین کیفیت

مرکزي پلان اوپالیسي کمیته


افغانستان اسلامي جمهوریت
لوړو زده کړو وزارت
جمهوری اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي
پلان او پالیسي کمیټه
ګڼه:
نیټه: ۱۴۰۱/۱۲/۱۵

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

موضوع: د ۱۴۰۱ کال د ستراتیژیک پلان د تطبیق د دریمې راپور

محترما!

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تطبیق د دریمې ربعي راپور دد مکتوب سره ضم ستاسی محترم مقام ته درواستول شو، څنګه چې لازم ګڼئ اجرات وکړئ.

په درنښت

زاهدالله سعیدی


د پلان او پالیسي کمیټې مسوول

کاپي:

د فتر فایل

د تضمین کیفیت کمیټه

مرکزي پلان او پالیسي کمیټه



د افغانستان اسلامي امارت
دلوړوزده کړو وزارت
امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
ازموینو کمېټه

ګڼه: ۷۷ / ۵۳
نېټه: ۱۹/۱۹/ 1401 مطابق: / / 1443

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ نور ☐

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

تضمین کیفیت کمېټې د پام وړ:

موضوع: د (۱۴۰۱) هـ.ل کال د دریمې ربعې د راپور په اړه:


محترما!

د ۱۴۰۱ هـ ش کال د دریمې ربعې راپور ترتیب او دديٍ مکتوب سره مل تاسو ته دروااستول شو.

په درنښت
عزت الله عزیز
د ازموینو کمېټې مسئول

کاپي:

1- عـــــــــ دفتر په فایل کې



د افغانستان اسلامي امارت
دلوړوزده کړو وزارت
امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
ازموینو کمېټه

ګڼه:
نېټه: ۶/۲/ 1401 مطابق: / / 1443

عاجل ☐ عادي ☑ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ نور ☐

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

تضمین کیفیت کمېټې د پام وړ:

موضوع: د (۱۴۰۱) هـ.ل کال د دلوی میاشتې راپور په اړه


محترما!

د ۱۴۰۱ هـ ش کال د دلوی میاشتې راپور ترتیب او دديٍ مکتوب سره مل تاسو ته دروااستول شو.له توجه څخه مو لا له وړاندې مننه وی.

په درنښت
رشیدالله شینواري
ازموینو کمېټې مسئول

کاپي:

1- عـــــــــ دفتر په فایل کې



د افغانستان اسلامي امارت
دلوړوزده کړو وزارت
امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
ازموینو کمېټه

ګڼه:
نېټه: /۸/ 1401 مطابق: / / 1443

عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ نور ☐

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محترم ریاست مقام ته!

موضوع: د (۱۴۰۱) هـ.ل کال د میزان میاشتې راپور په اړه

محترما!

د ۱۴۰۱ هـ ش کال د میزان میاشتې راپور ترتیب او دديٍ مکتوب سره مل تاسو ته دروااستول شو.له همکارۍ څخه مو لا له وړاندې مننه وی.

په درنښت
[illegible]
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رییس

کاپي:

1- عـــــــــ حقوق او سیاسي علومو پوهنځي تضمین کیفیت کمېټې ته
2- عـــــــــ دفتر په فایل کې



افغانستان اسلامـــــی امارت
لوړو زده کـــــــړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو موسسه
حقوقو اوسیاسی علومو پوهنځي
د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه


د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د څلورمی ربعي راپور د
۱۴۰۱ هـ ش کال

| راپور ورکوونکي نوم | احمدنشاط کلیوال |
|---|---|
| دنده | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې آمر |
| راپور اخیستونکي نوم | زاهد الله سیدي |
| دنده | حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي رئیس |

د یو داد من راتلونکي پر لور

**Fourth Quarterly Report of Administration and Diplomacy Department**

From: AhmadNeshat Keliwaal (HOD)



امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
دلوړو زده کړو وزارت
د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي
اداره او دیپلوماسی څانګه


ګڼه: ۱۹۱/۲۰
نېټه: ۱۳ / ۱۰ / ۱۴۰۱ مطابق: / / 1443

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ریاست محترم مقام ته!

موضوع: د میزان، عقرب او قوس میاشتو راپورونه

محترما !

څنګه چې تاسی ته ښه معلوم دی چې هر څانګه باید د خپل میاشتنی کړنو راپور د پوهنځي ریاست ...
کړي په همدې پر د اداره او دیپلوماسی څانګې هم د میزان، عقرب او قوس میاشتو د کړنو راپور ...
مکتوب سره مل تاسی ته در واستول شو ترڅو خپل برخه کې لازمي اجراات ترسره کړي.
البته دا راپورونه باید پخپل وخت تاسی ته استول شوی وای خو د ځینو بوختیاو له مخې دا راپورونه د ...
وځنډول شو بیا هم ستاسی د همیشني همکارۍ څخه ډیر مننه.



افغانستان اسلامـــــی امارت
لوړو زده کـــــــړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو موسسه
حقوق او سیاسی علومو پوهنځي

دویمي ربعي راپور
۱۴۰۱ هـ ش کال

د یو داد من راتلونکي پر لور

**د پوهنځي د اکادمیکو، مالی او اداری چارو تنظیمول:**

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدلو ډول |
|---|---|---|
| ۱ | **د پوهنځي د اکادمیکو، مالی او اداری چارو تنظیمول:**<br>✓ **د پوهنځي د علمی چارو د تنظیم لپاره پلان ترتیبول او د اصولو له مخی د ټولو کړنو تنظیمول.**<br>✓ **د پوهنځی د مالی چارو د تنظیم لپاره د هر کال د بودیجی ترتیب او په ښه او ګټوره توګه د هغی مصرفول.**<br>✓ **د پوهنځي د اداري چارو د تنظیم لپاهر د اړونده څانګو، کمیټو او تدریساتو پلان جوړونه او اصولو له مخی د کړنو ویش او پرمخ بیول.** | د پوهنځی د اکادمیکو، مالی او اداري چاری تنظیم شوی دی.<br>✓ د پوهنځي د علمی چارو لپاره پلان ترتیب شوی او د اصولو له مخی ټولی کړنی ترسره شوی دی.<br>✓ د پوهنځي د مالی چارو لپاره پلان ترتیب شوی او بودیجه په ټاکل شوی شکل په مصرف رسیدلی.<br>✓ د پوهنځي د اداري چارو د تنظیم په موخه ټولو اړوندو څانګو، کمېټو او تدریساتو پلانونه جوړ شوی. |
| ۲ | **د محصیلینو مختلفو عدلی، اداری اوسیاسی نهادونو ته د علمی سفرونو برابرول:**<br>• **عدلی ریاست ته د محصیلینو علمی سفر.**<br>• **استیناف محکمی ته دمحصیلینو علمی سفر برابرول.**<br>• **استیناف څارنوالی ته د محصیلینو علمی سفر.** | محصیلین مختلفو عدلی، اداری او سیاسی نهادونو ته د علمی سفرونو په موخه لیږل شوی.<br>د ذکر وړ ده چې ټاکل شوو ریاستونو ته محصیلین د ځینو مشکلاتو په اساس نه دی استول شوی اما ځینو علمی او عدلی نهادونو ته محصیلین استول شوی چې شواهد یې ددی راپورسره ضم دی.<br><br>✓ محصیلین د علومو اکاډمی ته د علمی سفر په موخه ولیږل شوه. |


Study Tour
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو د علومو اکاډمۍ څخه لیدنه وکړه






Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788

د ۱۴۰۱ کال د جدی په اوومه د حقوقو پوهنځی محصلینو د اتنوګرافی د تحقیقاتی موزیم څخه لیدنه ترسره کړه







**د ځانګړو هوکړه لیکونو پر بنسټ بهرنیو پوهنتونونو ته د محصیلینو لیږل:**

| شماره | فعالیت | د ترسره کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۳ | **د ځانګړو هوکړه لیکونو پر بنسټ بهرنیو پوهنتونونو ته د محصیلینو لیږل:**<br>• **پاکستان هېواد کې د مناسبو پوهنتونونو سره هوکړه لیک او هغې ته د محصیلینو لیږل.**<br>• **د ایران هېواد کې د مناسبو سره هوکړه لیک او هغې ته د محصیلینو لیږل.**<br>• **د سیمی د ځینو نورو هېوادونو سره هوکړه لیک او هغې ته د محصیلینو لیږل.** | په هېواد کې د روان سیاسی او اقتصادی وضیعت له کبله د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په دی نه دی توانیدلی چې پاکستان او ایران او همدارنګه د سیمو یو شمیر هېوادونو سره هوکړه لیکونه رامنځته کړی او افغان محصیلین د لوړو زده کړو لپاره هلته واستوی. دغی چارې ته د ۱۴۰۲ هـ ش کال په تطبیقی پلان کې ځای ورکړل شوی او ترسره به شی. |
| ۴ | **د محصیلینو، استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني مختلف ورکشاپونو او سیمینارونو دایرول:**<br>○ **محصیلینو ته د تحصیلی څانګو په نظر کې نیولو سره مختلف علمی او عملی سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول.**<br>○ **استادانو ته د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره مختلف عملی او علمی سیمینارونه او ورکشاپونه برابرول.**<br>○ **اداري کارمندانو ته داړتیاوو په نظر کې نیولو سره مختلف عملی او علمی سیمینارونو او ورکشاپونه دایرول.** | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د محصیلینو، اداری کارمندانو او استادانو د علمی او کاری وړتیاوو د لوړوی په موخه په لازمو وختونو کې سیمینارونه او ورکشاپونه دایر کړی چې شواهدی یې ددی راپور سره ضم شوی دی. |

د محصیلینو د علمی ظرفیت لوړونی سیمنارونه




موضوع: د افغانستان په حقوقي نظام کې د
محبسونو او توقیف ځایونو شرایط
وړاندې کوونکی: استاد ننګیالی مصئون
ځای: التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


التقوا د لوړو زده کړو موسسه
AL-TAQWA INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION
Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


التقوا د لوړو زده کړو موسسه
AL TAQWA INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION
د کلتور او سیاست اغیزې
د مرکزي آسیا څخه جنوبي آسیا ته د افغانستان
سیاسي اوښتون (تغیر)
وړاندې کوونکی
احمد نشاط کلیوال
۱۴۰۱/۹/26 ورځ شنبه 2:30 د غونډو تالار



Afghanistan and Central Asia
AL-TAQWA IN
Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


التقوا د لوړو زده کړو موسسه
AL TAQWA INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION
د افغانستان جیوپولیټیک او
سمیه ییز اتصال
۱۴۰۱/۹/۱۹
ورځ شنبه 9:00
د غونډو تالار
وړاندې کوونکی
څېړندوی عبدالصبور مبارز





استادانو ته په ملی او نړیوالو ژورنالونو کي د مقالو خپرولو په هکله سیمینار دایر شو (۱۴۰۱/قوس/۲۴)








۲۲/قوس/۱۴۰۱ کال استادانو ته د SPSS برنامې په هکله دوه ورځنی سیمینار وړاندی شو








۱۹/عقرب/۱۴۰۱ استادانو ته د EPR په هکله سیمینار وړاندی شو.









د (میزان/۱۴۰۱/۷) د علمی معاوینیت اړوند پالیسیو په اړه سیمینار وړاندی شو












د (میزان/۱۴۰۱/۴) کال محصیلینو ته د ښنګه او چیرته اوظیفه ترلاسه کړم تر عنوان لاندی سیمینار وړاندی شو









(۳۰/سنبله/۱۴۰۱) سوله د نړیوالو قوانینو او اسلامی شریعت له نظره سمینار استادانو او محصیلینو ته وړاندی شو.








د بدني روزني د کميټي له خوا د حقوقو پوهنځي په کچه د ورزشی مختلفو ټیمونو رامنځته کول:

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۵ | **د بدني روزني د کميټي له خوا د حقوقو پوهنځي په کچه د ورزشی مختلفو ټیمونو رامنځته کول:**<br>○ **د پوهنځی په کچه د بدني روزني کمېټی ایجادېږ**<br>○ **د ولیبال ورزشی ټیم رامنځته کول.**<br>○ **د کرکټ ورزشی ټیم رامنځته کول.**<br>○ **د فوټبال ورزشی ټیم رامنځته کول.** | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تطبیقی پلان مطابق دغه کړنه په منظم ډول سره نه ده اجراء شوی.<br>د ولیبال، کرکټ او فوټبال ورزشی ټیمونه نه دی رامنځته شوی اما دغه کړنه به د ۱۴۰۲ هـ ش کال په تطبیقی پلان کي ځای پر ځای او په منظمه توګه ترسره شي. |
| ۶ | **د مشوره ورکوني مرکز ته په اړوندو برخو کي د متخصصو استادانو معرفی کول** | د مشوره ورکونی مرکز ته په اړونده برخو کي متخصص استادان معرفی شوه. |
| ۱۳ | **د پوهنځی په کچه د نویو هوکړه لیکونو رامنځته کول او لازمه پرختیا ورکول:**<br>• **ننګرهار عدلی ریاست سره د ګډو همکاریو هوکړه لیک رامنځته کول.**<br>• **ننګرهار استیناف محکمی سره د ګدو همکاریو هوکړه لیک رامنځته کول.**<br>• **ننګرهار استیناف څارنوالۍ سره د ګډو همکاریو هوکړه لیک رامنځته کول.**<br>• **ننګرهار خارجه ریاست سره د ګډو همکاریو هوکړه لیک رامنځته کول.**<br>**ننګرهار امنی قمندانی سره د ګډو همکاریو هوکړه لیک رامنځته کول.** | د ستراتیژیک پلان د تطبیقی پلان مطابق د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی باید د عدلی ریاست، استیناف محکمی، استیناف څارنوالی او ننګرهار ولایت خارجه ریاست سره هوکړه لیکونه رامنځته کړی وی اما د شته حالاتو په نظر کي نیولو سره یاده چاره نه ده ترسره شوی. د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ځینو نورو نهادونو سره هوکړه لیکونه رامنځته کړی دی چي شواهد يي ددی راپور سره ضم دی. |

د کونړ پوهنتون سره د ګډو علمی همکاریو هوکړه لیک




Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788


Al-Taqwa Institute of Higher Education
www.altaqwa.edu.af
0777323368
0783287788

د مستقبل پوهنتون سره د علمي هوکړه لیکونو رامنځته کول.








**د حقوقو او سیاسی علومو په کچه د علمی او څیړنیزو سیالیو پراختیا**


| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۷ | **د حقوقو او سیاسی علومو په کچه د علمی او څیړنیزو سیالیو پراختیا:** **د ټولنی اړتیا ته په کتو او د (پوهنځی او د هغی د اړونده څانګو د لرلید او ماموریت په نظر کې نیولو سره) په مختلفو برخو کې دعلمی څېړنیزو سیالیو ترسره کول** | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د محصیلینو او استادانو پرمټ د ټولنی د عینی شرایطو او ضروریاتو ته په کتو سره څیړنی ترسره کړی او همدارنګه دمحصیلینو ترمنځ رقابتی سیالۍ پر لار اچول شوی تر څو د ټولنی په یوه ډیره مهمه موضوع باندی ډیبیټ ترسره شی. اسناد او شواهد یې په همدی موضوع پسی متصل ذکر شوی دی. |

د پوهنځیو د محصیلینو ترمنځ ډیبیټ






د حقوقو پوهنځي د استادانو مقالی چې د مؤسسی په مجله کې چاپ شوی (دنمونی په شکل يې دلته ذکر کوو)




محمد عمران دولتزی

حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالی څانګه

لارښود استاد: دوکتور حمدالله کاکړ

اسلام کې د ښځو او سړيو د حقوقو او مسوليتونو څېړنه

لنډيز


الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده. وبعد؛

(...وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ) سورت النحل ايت ۸۹

اسلام يو جامع دين او کامل نظام دی چې هر څه يې په واقعيت ولاړ دي د فرد او ټولنې توازن پکې مراعت شوی. په عدل، انصاف، انساني کرامت او عزت کې ښځې او سړي توپير نه لري، اسلام کې دښځې حقوق په داسې معيار ښودل شوي چې بل هيڅ نظام کې سارى نه لري. اسلام خومره د انصاف دين دی ښځو ته يې خومره لوړ مقام ورکړی، دښځې په اړه يې خومره سپارښتنې کړي، ښځه هغه لومړی ښوونکې ده چې نسلونه روزي او دټولنې په جوړښت کې مهم رول لري، ښځه يوه موړده چې د پښو لاندې يې جنت دی او له هغې سره ښېګڼه دجنت لاره ده، ښځه يوه ميرمن ده چې سکون، ترحم او دوستي ګرڅول شوي ده. (۱: ۱۶ / ۴۶۱) ښځه يوه لور او خور ده چې په پالنه يې مور او پلار د رسول ﷺ سره يو ځای جنت ته داخليږي. (۲: ۱۴۸/۷)رقم (۱۸۳۷)

رسول ﷺ وايي غوره له تاسې هغه دي چې خپل اهل ته غوره وي او زه له تاسې څخه هغه څوک يم چې خپل اهل ته غوره يم، د ښځو عزت چې کوم سړی کوي هغه عزتمند دی او توهين چې کوي هغه بېلارې دی. (۳: ۴۸/۱۰)





د لوړو زده کړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
حقوقو او سياسي علومو پوهنځی
د څېړنو کميټې د (۱۴۰۱) هـ ش کال ...

نېټه: ۱۳ / ۱۱ / ۱۴۰۱

فوق العاده ☐ عادی ☑

| پرېکړې او تصاميم | د بحث وړ موضوعات (اجندا) |
| --- | --- |
| [illegible] | د استادانو د علمي مقالو اړوند ... د علمي مقالې ... |

مخ ۱۰


لوړو زده‌کړو وزارت
التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسه
علمي چارو معاونيت
نشراتو آمريت
دعلمي مجلې مديريت

التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسې علمي او څېړنيزه شپږ مياشتنۍ خپرونه

په دې ګڼه کې لولئ!

- اسلام کې د ښځو او سړيو د حقوقو او مسوليتونو څېړنه
- د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو په ګټورتوب د کويډ ۱۹ اغېزې
- په انلاين سوداګرۍ کې د افلاس لاملونه (ننګرهار)
- د اسلامي شريعت او افغانستان د قوانينو له نظره پټ کشفي اقدامات
- په سياسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر
- د افغاني بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې

د تاسيس کال: ۱۴۰۱ ل
ننګرهار-افغانستان

شپږ مياشتنۍ خپرونه، د ۱۴۰۱ ل کال-لومړۍ ګڼه

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
| --- | --- | --- |
| ۸ | **د ملی او نړیوالو ټرینرانو رابلل:**<br>• **د استادانو د علمی او عملی وړتیاوو د لوړیدا په پار د ملی او نړیوالو ټرینرانو رابلل.**<br>**د محصیلینو د علمی او عملی وړتیاوو د لوړیدا په پار د ملی او بین المللی ټرینرانو رابلل.** | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د استادانو او اداری کارمندانو د ظرفیت لوړونی په موخه په ملی او نړیواله کچه ټرینران رابللی. اسناد او شواهد یې ددی راپور سره ضم دی. |

پوهاند حفیظ الله دانش د یو ملی ټرینر او مشر استاد په صفت د پوهنځی استادانو ته د سیمنیار په حال کې





ډاکټر مصطفی نیازی د پوهنځي محصیلینو او استادانو ته د سیمنار ورکولو په پار د ملی ټرینیر په صفت رابلل شوی.



## د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په کچه د نویو علمی کادرونو ګومارنه

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۹ | **د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په کچه د نویو علمی کادرونو ګومارنه** | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د خپل ضرورت په اساس نوی علمی کادر غړی ګمارلی چې د شواهدو په توګه په لاندی ډلو ذکر کوو. |







## د حقوقو کلینک پراختیا

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۱۰ | **د حقوقو کلینک پراختیا** | د حقوقی کلینیک د پراختیا لپاره لازمی کړنی ترسره شوی دی. همدارنګه ددغی کلینیک له لاری په مختلفو وختونو کې تمثیلی محاکم ترسره شوی او څو دوری محصیلین فارغ شوی دی. |

د غصب د قضیې اړوند تمثیلی محاکمه ترسره شوه








دیرش تنه محصیلین د حقوقی کلینیک څخه فارغ











د فریبکاری اړونده تمثیلي محکمه ترسره شوه.







8:23

Search

Posts About Videos More

څه باندې دېرش تنه له شپږ میاشتو عملي زده کړو وروسته فارغ شول!

التقوی د لوړو زده کړو موسسې حقوقي کلینیک په لومړۍ دوره کې دو دېرېش تنه محصلین له شپږ میاشتو عملي زده کړو وروسته د یوې غونډې پرمهال فارغ کړل.

د غونډې پرمهال د موسسې رئیس ښاغلي خوشحال جواد د خپلو خبرو پر مهال فارغو محصلینو ته د مبارکۍ ترڅنګ وویل د نظري زده کړو ترڅنګ عملي زده کړې زموږ لومړیتوب دی هغه زیاته کړه د موسسې حقوقي کلینیک په خپله لومړۍ دوره کې دوه دېرش تنه نارینه او ښځینه محصلین له شپږ میاشتو عملي او مسلکي زده کړو وروسته فارغ کړل، څو په خپله مسلکي برخه کې هېواد ته د ریښتني خدمت جوګه شي.

د غونډې په پای کې فارغو محصلینو ته د مسولینو له لوري د دوي د فراغت تصدیق پاڼې هم ورکړل شوې او غونډه په دعا سره پای ته ورسېده .

التقوی د یو دادمن راتلونکي په لور

خپرونو آمریت




✓ د محصیلینو د مونو گرافونو او څېړنو د Data Base رامنځته کول.

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۱۱ | ✓ د محصیلینو د مونو گرافونو او څېړنو د Data Base رامنځته کول.<br>✓ استادانو د څېړنی لپاره د یو منظم ډیټا بیس رامنځته کول. | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د محصیلینو د مونوگرافونو لپاره د منظم data Base لری او همدارنگه په دغه پوهنځي کې د استادانو د څیرنو لپاره خاص میکانیزم او Data Base موجود دی |







## په ملی او نړیواله کچه د څېړنو په ترسره کولو کې همکاری

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۱۴ | **په ملی او نړیواله کچه د څېړنو په ترسره کولو کې همکاری** | |
| ۱۵ | **د راتلونکی کال لپاره دAPM جوړول** | |
| ۱۶ | **د خزانی کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول** | |








## د متفرقه کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۱۸ | **د متفرقه کانکور لپاره د لازمو تدابیرو نیول** | |










## د نوی سمسترونو د پیل لپاره تدابیر نیول:

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ړول |
|---|---|---|
| ۲۰ | د نویو سمسترونو د پیل لپاره تدابیر نیول:<br>○ د نوی سمستر مهالویش جوړول.<br>○ د نوی سمستر د صنفونو تنظیم<br>د نوی سمستر د پیل په پار د استادانو سره غونډه کول. | |



د لوړو زده کړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
محصلانو چارو معاونیت
ازموینو مدیریت

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي خزاني سمستر د نهایي ازموینو د صحنو موقعیتونه (۱۴۰۱ هـ ش کال)

سهار اوله دوره (9–6)

| شماره | د صنف کوډ | سمستر | څانګه | محصلینوتعداد | صحنې موقعیت |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | T15-EM02 | اتم | قضا او څارنوالي | 38 | A – بلاک چمن |
| 2 | T16-EM01 | اووم | اداره او ډیپلوماسي | 60 | C – بلاک چمن |
| 3 | T17-EM01 | شپږم | قضا او څارنوالي | 45 | B – بلاک چمن |
| 4 | T18-EM01 | پنځم | اداره او ډیپلوماسي | 42 | کتابتون ترڅنګ – چمن |
| 5 | T19-EM01 | څلورم | قضا او څارنوالي | 32 | شځینه انتظار خونې ترڅنګ – چمن |
| 6 | T22-EM01 | لومړی | اداره او ډیپلوماسي | 69 | غونډو تالار |

## فارغانو ته د فراغت غونډی نیول:

| شماره | فعالیت | د اجراء کیدو ډول |
|---|---|---|
| ۲۲ | **فارغانو ته د فراغت غونډی نیول:**<br>• **د فارغو محصیلینو لیستونو ترتیبولو او تنظیمول.**<br>**د امکان په صورت کې د gold midlist محصیلینو اعلانول او هغوی ته مډال ورکول.** | |










فراغت غونډه


فراغت غونډه


فراغت غونډه

## د online  زده کړو پراختیا

| د اجراء کیدو پړول | فعالیت | شماره |
|---|---|---|
| | د online  زده کړو پراختیا<br>د محصیلینو لپاره د انلاین زده کړو سیمینارونو او ورکشاپونو برابرول | ۲۴ |

د الکترونیک زده کړو کمېټي مشر استاد شاکرالله فنا محصیلینو ته د انلاین سستم پيژندلو په وخت









## د پوهنځي په کچه د نويو کميټو ايجادول

| شماره | فعاليت | د اجرء کيدو ډول |
|---|---|---|
| ۲۴ | **د حقوقو پوهنځی د اداری او خدماتی کارکوونکو کلنی ارزونه** | |
| ۲۵ | **د پوهنځي د کميټو ارزونه** | |
| ۲۶ | **د پوهنځي په کچه د نويو کميټو ايجادول** | |

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د علمی شورا پریکړی چې په کې د نویو کمېټو د ایجاد ذکر شوی.





## پایله

د ۱۴۰۱ هـ ش کال د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د تطبیقی پلان چې په کلی ډول د ۳۲ مواردو لرونکی دی په منظم ډول عملی کړی. د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د علمی شوراګانو په ګډون په یاد کال کې ځانګړی هوکړه لیکونه، د استادانو او اداري کارمندانو استخدام، د ټولو قوانینو او مقرراتو عملی کول، د کمېټو، ډیپارتمنټونو او اړونده څانګو ارزیابی کول، د مشوره ورکونی مرکز ته د اړونده څانګو څخه د استادانو معرفی کول، د فراغت غونډی نیول، د استادانو او محصیلینو تشویقول، د علمی څېړنو او کنفرانسونو برابرول، د ملی او نړیوالو ټرینرانو رابلل، د مالی او اداری برخو د امورو ترتیبول او تنظیمول، د امریتونو ارزیابی کول، د خزانی کانکور اړوند کړنی ترسره کول، د متفرقه کانکور ازموینی اخیستل او اړونده نوری کړنی ترسره کړی دی.

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د تطبیقی پلان ځینی موارد چې د دهغی د جملی څخه د ورزشی لوبو او ټورنمنټونو ترتیبول دی په هغه ډول چې لازم دی نه دی ترسره کړی. باید ذکر شی چې په دی راپور کې د هغه کړنو چې ترسره شوی نه دی د نه ترسره کېدو دلایل یې په مشرح ډول سره ذکر شوی دی.

د حقوقو اوسیاسی علومو پوهنځي د راتلونکی کال په تطبیقی پلان کې ټول هغه موارد چې د تیر کال څخه پاتی شوی ځای پر ځای شوی دی چې د راتلونکی کال د فعالیتونو عمده برخه جوړوی. په دی اساس ویلای شو چې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنخي خپل تطبیقی پلان په کامیاب ډول سره عملی کړی دی.

## وړاندیزونه

1. په چارو کې د هماهنګۍ د منځته راوړلو لپاره د تضمین کیفیت ټولی کمېټي باید د اسی مکان ته انتقال شی چې وکولای شی د مؤسسی د کمیټو سره یو ځای خپل کارونه ترتیب او تنظیم کړی.
2. د کمېټو د غړو او مسؤلینو لپاره باید په تدریسی ساعتونو کې کمښت رامنځته شی تر څو وکولای شی چې په منظم ډول سره خپلو کړنو ته رسیده ګی وکړی.
3. د هری کمېټي لپاره باید په جداګانه ډول ټول دفتری وسایل (الماری، کمپیوټر او د امکان په صورت کې پرینټر) موجود وی.
4. د ټولو پلانونو د تطبیق د نظارت په موخه باید یو مشخص کمېسیون رامنځته شی تر څو د موجوده پلانونو د تطبیق څخه اطمینان حاصل شی.
5. د ټولو کمېټو د مسؤلینو او غړو د لا ښه پوهاوی لپاره باید په هره برخه کې لازم سیمینارونه او ورکشاپونه ترتیب شی تر څو د کمېټو غړی او مسؤلین خپلی چاری په منظم ډول سره ترسره کړی.
6. د پوهنځي د څانګو لپاره باید مستقل دفترونه موجود وی تر څو د کارونو د ښه اجراء کیدو سبب شی.
7. د استادانو تر منځ د هماهنګۍ دایجاد لپاره باید په مناسب وخت او د مهالویش له مخی جلسات دایر شی.
8. د استادانو او اداری کارمندانو لپاره باید مختلف علمی او سیاحتی سفرونه ترتیب شی.
9. د پوهنځي کتابونه او د کمپیوټرلیب کمپیوټرونه د محصیلینو په تناسب نه دی برابر باید په اندازه کې یې اضافه والی راشی.

## لاسته راوړنی

په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ځینی مهمی لاسته راوړنی په لاندی ډول دي:

- د لوړو زده کړو وزارت څخه د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د تحصیلی نصاب تائیدول.
- د تضمین کیفیت د دوهم پړاو په بشپړولو کې معیار نمری اخیستل.
- د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د څانګو د نویو نومونو تائیدول.
- په لوړو تعداد محصیلین د ټولنی د خدماتو لپاره وړاندی کول.
- د ملی او بین المللی نهادونو سره د هوکړه لیکونو رامنځته کول.
- د حقوقی کلینیک پراختیا.
- محصیلینو ته د لازمو سیمینارونو او ورکشاپونو برابرول.
- په علمی مجله کې د استادانو او محصیلینو د مقالو خپرول.
- په نړیواله کچه د پوهنځی د استادانو د مقالو خپریدل.
- په علمی کادر کې د لوړو تحصیلی درجو لرونکو استادانو ګمارنه.
- په ادرای برخه کې د مسلکی اشخاصو ګمارنه.
- د خزانی او متفرقه کانکور په اساس د نویو محصیلینو جذبول.
- د محصیلینو د ظرفیت لوړونی په برخه کې د عملی برنامو ترسره کول.
- او ځینی نور لاسته راوړنی چې په تیر کال کې ترسره شوی.
- د تدریسی او اداري بهیر د نظارت د پروسی ګړندي کیدل.
- په مختلفو برخو کې د نویو پالیسیو رامنځته کول.

## ننګونی

- د حقوقی کلینیک په برخه کې د دایمی ټرینرانو نه موجودیت.
- د تمثیلی محاکمی د ارایې لپاره د یو مشخص صالون نه شتون.
- د حقوقی کلینیک په برخه کې د ذیربطه مراجعو سره د تفاهم نامو نه شتون.
- د پوهنځی د چارو د ښه ترسره کولو لپاره د څانګو لپاره جداګانه کاری دفترونه.
- په اداری او دیپلماسی څانګه کې د مسلکی کادرونو کموالی.
- د استادانو له خوا د ملی او بین المللی کچه د څیړنو کموالی.
- د استادانو لپاره د څیړنو د واحد مرکز او سهولتونو نه شتون.
- استادانو ته د متعددو مضامینو ورکړه.
- د پوهنځي د موقفونو او د کمېټو د مسؤلینو ژر بدلون او نوی مسؤل ته د ټولو اسنادو په منظم ډول نه سپارل.

### د حل لارې

- د حقوقی کلینیک لپاره باید په مدنی، جزایي برخه کې دایمی متخصص ټرینران استخدام شی.
- د تمثیلی محکمی لپاره باید یو مشخص صالون جوړ شی تر څو محصیلین وکولای شی چې په عملی زده کړو کې ښه پوهه ترلاسه کړی.
- د مجصیلینو د لاښه پوهاوی لپاره باید ټولو اړوندو نهادونو (محاکم، عدلی ریاست، مدافع وکیلانو ټولنه او داسی نور) سره تفاهنامی رامنځته شی.
- د استادانو د څیړنو د ترسره کولو لپاره باید لازم امکانات برابر شی او داسی میکانیزم رامنځته شی چې په نتیجه کې ټول استادان تشویق او څیړنی ترسره کړی.
- د چارو د ښه ترسره کولو لپاره باید د پوهنځی دواړو څانګو ته جداګانه دفاتر جوړ شی ترڅو کړنی په منظم ډول سره ترسره شی.
- په هره څانګه کې باید د ضرورت په اساس علمی کادر استخدام شی ترڅو د مضامینو د تعدد مخنیوی وشی. همدارنګه د کمېټو د غړو د ژر بدلون مخه باید د دایمی استادانو او هغوی ته دکمېټي دچارو د ترسراوی په موخه امتیازات ورکړل شی.

پورتنی راپور د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د پلان او پالیسی کمېټې په (۱۴۰۱/۱۲/۹) تاریخ (۱۴) ګڼه پروتوکول کې ثبت او د رأیو په اکثریت سره تایئد دی.

| | |
|---|---|
| ترتیب کوونکی | تایئدونکی |
| سید اسرار صمیم | ذاهدالله سیدی |
| د پلان او پالیسی کمېټي منشی | د پلان او پالیسی کمېټي مسؤل |

پورتنی راپور د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي فوق العاده شورا په ( ۲۴ / ۱۲ / ۱۴۰۱) تاریخ ( ۱۶ ) ګڼه پروتوکول کې ثبت او د رایو په اکثریت سره تائید دی.